## ب برخه: د یوه ښه رهبر ځانګړتیاوي:
## پنځم لوست: د حساب ورکولو او مسولیت درک کول

**د زده کونکو د زده کړې موخې یا هدفونه** زده کونکي به ددي لوست په پایله کي له لاندې موخو سره اشنا شي، د دې لوست تشریحات باید چي د لاندې موخو د منځته راتلو پایلي وګرځي:

1: شخصي حساب ورکول او مسولیت تعریف کړئ؟
2: د حساب ورکول او د مسولیت ارزښت پیژندګلو وکړئ؟

**وړاندیز وخت د لوست ورکولو لپاره:** ١ساعت

**وړاندیز منابع :** لاندې منابع کیدلی شي چي ددي لوست په تدریس کولو کي ګټوری واقع شي:
د دې درسي پلان نه د استفادې په خاطر د پاورپواینټ ارایه کول هم ترتیب شوي دي. د لاندې ویب پاڼو څخه هم په دي برخه کي استفاده او ګټه اخستل کیدلی شي.


Connors, Roger, et al. *The Oz Principle: Getting Results through Individual and Organizational Accountability*. New York, New York: Prentice Hall Press, 1998.

Johnson, Spencer and Blanchard, Kenneth. *Who Moved My Cheese? An Amazing Way to Deal with Change in Your Work and in Your Life*. New York, New York: Putnam Pub Group, 1998.

Marshall, Marvin L. *Discipline without Stress, Punishments or Rewards: How Teachers And Parents Promote Responsibility and Learning*. New York, New York: Piper Press, 2001.

Miller, John G. *QBQ! The Question behind the Question*. Denver, Colorado: Denver Press, 2001.


**دسامان الاتو،وسایلو او لازمو اسانتیاو لړلیک**

دلیکلوپه خاطر سپینه ورقه یا صفحه

دپاورپواینټ پروګرام په خاطر غټ ښودونکی (پراجکتور)

دپاورپواینټ (دکمپیوټرپروګرام) صفحي

روښانه سلایدونه یا صفحي

د زده کونکو د کاري ورقو کاپي
مار کر
پنسل

**اصطلاح ګاني:** لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست کي تر استعمال لاندې نیول کیږي.

- **مسؤلیت**
- **حساب ورکول**

**په زړه پورې تګلاره :** له په زړه پوري تګلاري څخه ګټه پورته کړئ ترڅو چي زده کونکي د لوست لپاره اماده کړل شي.ډیرى ښوونکي د خپلو ځانګړو ټولیګیو لپاره لازمي لاري چاري او شرایط ترتیب او برابروي. په دي ځآی کي یوه ممکنه تګلاره تر استفادې لاندې نیول کیږي.

زده کونکي وهڅوئ ترڅو چي د زده کړي سره علاقه ولري او ریښتوني ځوابونه هغه سوالونو ته ورکړي چي له هغوي څخه کیږي د هغوي لپاره ۱۰ دقیقي وخت ورکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: تاسې په شحصي توګه تاسې خپله د کومو مسولیتونو، د خپلې کورنی لپاره، د خپلې ټولنې لپاره او د نړی په برخه کي په کومو مسولیتونو باندې اعتمادي یاست؟ په یاد ولرئ، چي د نن ورځي بحث ممکن د یوې متوسطې اونی او یوې استثنایي اونی ترمنځه تفاوت یا توپیر منځته راوړي نو په دي بنا د پوهې زده کونکي دي د زده کړي مشتاق وي او ریښتوني ځوابونه د هغو سوالونو په هکله وړاندې کړي کوم چي له دوي څخه پوښتل شوي دي.

## د محتویاتو لنډیز او د لوست ستراتیژي ګاني

## لومړی موضوع یا هدف : شخصي حساب ورکول او مسولیت تعریف کړئ

**آټکل شوی یا وړاندیز شوی ستونزه:** شخصي مسولیت کوم دي؟
**شخصي حساب ورکول کوم دي؟**
د فکري یا عقلي انګیزي په اساس د هغو اصطلاح ګانو او کلمو لست جوړ کړئ چي شحصي مسولیت او حساب ورکول تشریح او روښانه کوي. هغه لست یا نوملړ چي د زده کونکو پواسطه تهیه شوي دی له هغه لست سره چي په ۱-۵ کاري ورقه کي شتون لري مقایسه یا پرتله کړئ. د لومړی موخې یا هدف لپاره ۱۰ د قیقي وخت مصرف کړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل** راځي! چي ټول ټولګی د هغو کلمو یا اصطلاح ګانو په برخه کي چي مونږ سره د مسولیت او حساب ورکولو په برخه کي مرسته کوي فکر وکړو.

خپلو لاسونه مو اوچت کړئ په هغه صورت چي تاسې د کومې کلمې په باره کي فکر کوی او مونږ هغه په لیکلې بڼه کړدو. د خپل ځآن او نورو په هکله چي د هغوي هم په چپ ډول سره د فکر کولو په حال کي دي او د جوابونو د یادښت کولو په حال دي د هغوي په اړه هم مواظب و اوسئ. **راځي چي پیل پري وکړو**.

## د پاور پواینټ دوهمه شمیره سلاید

### 1. مسولیت منل او حساب ورکول څه دي؟

- **وظیفه (job)**
- **کار ( Duty)**
- **وجیبه ( Task)**
- **د اعتماد قابلیت (Dependability)**
- **د دندو سرته رسول (Liability)**
- **ځواب ورکولو وړتیا(Answerable)**

**د اطمنان وړ (Reliable)**
**په نورو باندې دتهمت نه تړل(**
**د فرایضو سرته رسول**
**د درستې فیصلي جوړول**
**د خپل ځان د کنترول کولو تمرین یامشق**

لاندې تعریفونه د زده کونکو لپاره و وایاست او له هغوي نه غوښتنه وکړئ ترڅو چي د لاندې سوالونو د ځوابونو په برخه کي مرسته او کمک وکړي. مهم او اساسي کارونه په نښه کړئ. د قاعدې په توګه، د ځواب وړتیا، اساسي ټکي، د شرایطو لرونکي، له هغوي څخه څلور سوالونه وپوښتئ او پنځمې کاري ورقي څخه استفاده وکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** اوس راځئ چي یو ممکن تعریف ته وګورو.

## د پاورپواینټ دریمه شمیره سلاید

2. د مسولیت منلو او حساب ورکولو لپاره کولی شو چي یو درست او صحیح تعریف چي د شرایطو لرونکو کسانو سره زمونږ د ژوندانه<u>سره قاعدتاً اساسي ټکو</u> لپاره <u>ځواب ورکونکی</u> وي.

<u>**قاعدتاً**</u> څه معني لري؟
<u>**ځوابوېونکی**</u> څه معني لري؟
<u>**اساسي ټکي**</u> کوم دي؟
څوک د <u>**شرایطو لرونکی**</u> دی چي مسولیت منونکی وي؟

**دوهمه موضوع یا هدف :** د مسولیت منلو او شخصي حساب ورکولو ارزښت مشخص کړئ.
د مسولیت منلو او حساب ورکولو په هکله ورانديز شوی سوال څه دی ؟

له زده کونکو سره د هغوي د مثبت او منفي کردار په هکله یو ځای له لاندې فعالیتونو سره بحث وکړئ. ټولګی په کوچنیو دري نفري ګروپونو باندې تقسیم کړئ. هریو ګروپ باید چي یو لست د (سرته رسولو) او (سرته نه رسولو) د مسولیت او حساب ورکونې لپاره منځته راوړي. دا فعالیت د دري نفري ګروپونو پواسطه تکمیل یا بشپړ کیږي. ددې کار لپاره ۲۰ دقیقې وخت ضروري او لازمي دي او د ۳-۵ کاري ورقو څخه استفاده وکړئ.

## د ښوونکی لپاره دوستورالعمل: (د پاورپواینټ څلورمه شمیره سلاید)

راځئ! چي ادامه ورکړو او یو لست د (سرته رسولو) او (سرته نه رسولو) د مسول او حساب ورکونکی لپاره منځته راوړو.
په شفاهي توګه راپور به جوړ کړو او ټول زده کونکي به لاندې سوالونو ته د ځوابو ویلو لپاره مخاطب کړو.

- څه به منځته راشي هرکله چي خلک له هغو شیانو سره هم عړي وي چي د (سرته رسولو) په لست کي دي، ژوند کوي ؟
- څه به منځته راشي هرکله چي خلک د (سرته نه رسیدلو) درستو وسایلو سره په هم غړی کي ژوند کوي؟
- کومي غیر مسولانه لاري چاري او برخوردونه اجتماع یا ټولنه متاثره کوي؟
- په څه ډول سره نن ورځ ځوانه طبقه کولی شي مسولیت او حساب ورکول ظاهر کړي؟

## اوس يي پیل کړئ:

څلور ذکر شوي اساسي یا بنسټیزي موضوع ګاني له زده کونکو سره شریکي کړئ او پریږدئ که چیر بحث د هغوي د مسولیت او شخصي حساب ورکولو پوري مربوط وي د نن ورځي ځوانان په همدې کټګوری کي ځای په ځای کړئ. د ٤-٥ کاري ورقې څخه استفاده وکړئ. د دې کار لپاره (٥) دقیقي وخت هغوي ته ورکړئ.

## (د پاورپواینټ پنځمه شمیره سلاید)

3. هرکله چي مونږ وسو ، زمونږه ژوند کیدلی شي چي پراختیاپیدا کړي یا رشد او نمو وکړي:

- په اخلاقي توګه مسول او حساب ورکونکی.
- په معنوی توګه مسول او حساب ورکونکی.
- د اړیکو له مخې مسول او حساب ورکونکی.
- په مالي توګه مسو او حساب ورکونکی.
- آیا کومه برخه بله هم شته ترڅو وکولی شو هغه منځته راوړو؟

## تکرار/لنډیز:

د پاورپواینټ له (٦) شمیري سلاید نه په استفادې سره د موخو تکرار لپاره مرسته وکړئ او زده کونکي په دي پوه کړئ چي په لوړ اواز سره حساب ورکول او د مسولیت او شخصي حساب ورکولو څلور موضوع ګاني تعریف کړي. پنځه دقیقي وخت باید چي په بر کي ونیس.

**غوښتنه:** د یوه ګروپ په توګه، د مکتب منابع یا زیرمي او د اجتماع یا ټولنې امنابع یا زیرمي وپلټئ کومي چي وکولی شي له هغه چا سره مرسته او کومک وکړي چي غواړي یوه ښه مسول او حساب ورکونکی وي هغه راجمع کړئ او یو ، یو کاپي د ټولګې د هر یو غړي لپاره تهیه کړئ.

## ارزیابی :

ارزیابی باید د زده کونکو د لاسته راوړنو په اساس سره د لوست د موخو په برخه کي متمرکزه وي. په دي برخه کي کیدلی شي چي مختلفو تخنیکونو څخه استفاده سرته ورسیري، بیلګئیز امتحان له دي سند سره یوځآی ارایه کیږي.

## نمونه ئي امتحان ته ځوابونه:

لومړی برخه
**درست یا غلط**

1. درست

2. درست

## دوهمه برخه: لنډ ځوابونه

A. په اخلاقي توګه مسول او حساب ورکونکی
B. په معنوی توګه  مسول او حساب ورکونکی.
C. د اړیکو له مخې مسول او حساب ورکونکی.
D. په مالي توګه مسو او حساب ورکونکی. ؟

# نمونه ئي امتحان

نوم ___________

# دمسولیت او حساب ورکولو درک کول

## لومړی برخه صحیح یاغلط

هر یوه بیانیه جمله ولولئ او د هغې په برخه کي تصمیم ونیسئ چي درسته ده او که غلطه او د هغې په مقابل کي کي د (درستې یا غلطې) کلمه نوشته کړي.

1. په قاعدوي توګه د مهمو نکتو لپاره ځواب ویونکی کیدل زمونږ په ژوندانه کي یوځای له شرایطو لرونکو کسانو سره د مسولیت او حساب ورکولو لپاره تعریف وړاندې کوي .
2. د اعتماد قابلیت، مسئولیت، او ځواب ویل ټوله هغه کلمات دي چي د مسئولیت او حسابو ورکولو په تعریف کي مرسته او کومک کوي.

## دوهمه برخه: لنډ ځوابونه:

ضروري معلومات اماده کړئ ترڅو چي لاندې سوالونوته ځواب وویل شي.

زمونږ ژوند کولی شي چي پراخوالی پیدا کړي او نمو وکړي هرکله چي مونږ یو.

**5-1 کاری ورقه**

# مسئولیت او حساب ورکول څه دی ؟

- وظیفه(job)
- کار (Duty)
- وجیبه (Task)
- اعتماد باور(Dependability)
- مسؤولیت(Liability)
- ځواب ویل (Answerable)
- د اطمنان وړ یا ډاډمن (Reliable)
- په نورو تهمت نه لګول(Don’t blame others)
- د فرایضو سرته رسول(Fulfill obligations)
- د درستې او صحیح فیصلې جوړول (Make good judgments)
- د خپل کنترول تمرین کول (Exercise self-control)

# مسئولیت قبلول او حساب ورکول

- د مسولیت قبلونې او حساب ورکونې لپاره یو واقعي تعریف امکان لري چي قاعدتاً، زمونږ د ژوندانه د مهمو ټکو لپاره ځواب ویونکی له شرایطو لرونکو کسانو سره وي.
  - د قاعدتاً معنی څه ده ؟
  - د ځواب ورکولو معنی څه ده ؟
  - اساسي یا بنسټیز ټکي کوم دي ؟
  - څوک د شرایطو لرونکی دی ترڅو چي حساب ورکونکی وي ؟

**5-3 کاري ورقه**

- څه به منځته راشي هرکله چي خلک له هغو شیانو سره هم عړي وي چي د (سرته رسولو) په لست کي دي، ژوند کوي ؟
- څه به منځته راشي هرکله چي خلک د (سرته نه رسیدلو) درستو وسایلو سره په هم غږی کي ژوند کوي؟
- کومي غیر مسولانه لاري چاري او برخوردونه اجتماع یا ټولنه متاثره کوي؟
- په څه ډول سره نن ورځ ځوانه طبقه کولی شي مسولیت او حساب ورکول ظاهر کړي؟

**5-4 کاری ورقه**

## رشد او تکامل

### زمونږ ژوند کیدلی شي چي نمو او تکامل وکړي په هغه صورت کي چي مونږ:

- په اخلاقي توګه مسول او حساب ورکونکی.
- په معنوی توګه  مسول او حساب ورکونکی.
- د اړیکو له مخې مسول او حساب ورکونکی.
- په مالي توګه مسو او حساب ورکونکی.
- آیا کومه برخه بله هم شته ترڅو وکولی شو هغه منځته راوړو؟